# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤۳ گڼه / شنبه ۲۵ شوال‌المکرم ۱٤٤۵ هـ.ق / ۱۵ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰٤ می ۲۰۲٤ میلادي


## ملا بخت الرحمن شرافت: نړۍ سره په پولادي کرښه وصل یو

د وسپني پټلۍ سرپرست ملا بخت الرحمن شرافت په خپله رسمي ایکس لیکلي چې د ایران له لارې یې دویمه جوپه توکي هم ترکیې ته ولېږدول. د ښاغلي شرافت په قول چې دویم کتار انتقالات یې له هرات څخه ترکیې ته لېږدولي دي. ملا بخت الرحمن شرافت په خپلې رسمي ایکسپاڼې د



هغه باروړونکو موټرونو ویډیو خپره کړې چې افغاني توکي ترکیې ته لېږدوي. نوموړي ویلي: مونږ نور نړۍ سره په پولادي کرښه وصل یو. یوازي انتقالات نه بلکې ولسونه سره نژدې کوو او نړۍ ته د امن پیغام ورکوو. ښاغلی شرافت په خپل ایکس د ایران او افغانستان اړیکې... ۳مخ

# افغان او ایراني چارواکو پر ټرانزیټي او اقتصادي همکاریو بحثونه کړي

د صنعت او سوداگرۍ وزارت وايي، د افغانستان او ایراني لوړ پوړو پلاویو ترمنځ په دویمه ناسته کې، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په کډه پوله شوې د ټرانزیټي او سوداگریزو اسانتیاوو، چابهار بندر کې د ټرانزیټي محدودیتونو لرې کولو او اوسپنې پټلۍ برخې خبرې شوې دي. په دې غونډه کې د صنعت او سوداگرۍ وزیر نورالدین عزیزي د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ پر وړاندې د ستونزو پر حل ټینگار ترڅنگ د ټرانزیټ په پیاوړتیا، اسانتیاوو رامنځته کولو، د بیو کمولو، په چابهاربندر کې



د مشخص شوې ځمکې بیې وروستي کولو او له دې بندر څخه د ټرانزیټي توکو لپاره د ځانگړې امتیازي مسیر ټاکلو غوښتنه کړې. بلخوا په دې غونډه کې د بلوچستان سیستان والي سردار محمد کرمي د یاد شویو ستونزو د حل لپاره اړوند مسئولینو ته لازمي سپارښتنې کړې دي. دې غونډه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ پراختیا او د چابهار بندر له لارې د ټرانزیټ زیاتوالي په موخه د ولایت په کچه د گډې تخنیکي کمېټې په جوړېدو او د مرکزي کمېټې له لوري د موضوعاتو د څارلو هوکړه وشوه.

## جاو شینگ؛ چین نورو هېوادونو کې د نه لاسوهنې سیاست پر مخ وړي



د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد په خپل کاري دفتر کې د چین له سفیر جاوشینگ سره کتلي او پر دوه اړخیزو اقتصادي او سیاسي اړیکو یې بحث کړی دی.
ملي دفاع وزارت پرون په خپلې رسمي ایکس پاڼې ددې لیدنې خبر ورکړی دی.
د ملي دفاع وزارت وزیر د دواړو هیوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې، تجارتي او اقتصادي همکارۍ یو مثبت گام یاد کړ. دفاع ... ۳مخ

## یوناما په افغانستان کې سل زره ښوونیز ټولگي پرانیزي




د افغانستان لپاره د یوناما ریيسې روزا اتنبایوا د لوگر له والي شیخ ضیاءالرحمن مدني سره په لیدنه کې ویلي؛ یوناما پام کې لري، ترخو نړدې راتلونکي کې د افغانستان په کچه په ځانگړې توگه په لرې پرمختللو ولایتونو کې سل زره ټولنیز ښوونیز ټولگي جوړ او فعال کړي. ورته مهال دې لیدنه کې د لوگر والي د یوناما له لوري د افغانستان عیني واقعیتونو په انعکاس د ټینگار سربېره ویلي، چې اسلامي امارت د خلکو د ستونزو حل لپاره هڅې کوي.

## شاروال کابل، بر تسریع روند تطبیق پروژه‌های انکشافی درسال روان تأکید کرد

مولوی عبدالرشید شاروال کابل، بر تسریع روند تطبیق پروژه‌های انکشافی سال روان در این نهاد تأکید کرده است.
به گزارش آژانس باختر؛ نشست درشاروال کابل، به منظورغنا و اجرای برنامه انکشافی سال ۱۴۰۳ این نهاد برگزار شد، مولوی عبدالرشید شاروال کابل در این نشست گفت: برای رفع نیازمندی‌های اساسی شهر پروژه‌های جدیدِ عمرانی طراحی شده و در فهرست برنامه سال جدید قرار گرفته است.
وی به مسولان مربوط گفت: مطابق شرح ماسترپلان، شماری از سرک‌ها سروی دقیق ... ص۳




## اتحادیه اروپا و سویس ۲۰ میلیون یورو با افغانستان کمک‌می‌کنند

اتحادیه اروپا و آژانس انکشاف و همکاری سویس برای توانمندسازی جوامع محلی در ارزیابی خطرات و کاهش اثرات منفی تغییرات آب و هوا و حوادث طبیعی در افغانستان ۲۰ میلیون یورو کمک می‌کنند.
اتحادیه اروپا روز گذشته در اعلامیه‌ی نوشته است که ۱۵ میلیون یورو این کمک‌ها از سوی اتحادیه اروپا و ۵ میلیون دیگر آن از سوی آژانس انکشاف و همکاری سویس در اختیار نهاد افغان‌اید و شرکایش قرار خواهد گرفت.
در اعلامیه گفته شده است: کمک‌های یادشده ... ص۳


په امریکا کې د محصلینو لاریونونه ۲

د خدیجې رضي الله عنها تلوسه او د ابوبکر صدیق رضي الله عنه مسلمانېدل ۲


## سرمقاله

# تعلیمي یووالي ته اړتیا

زموږ په لوستې او علمي طبقه کې د ملا او مکتبي یا مدرسې او مکتب اختلاف یو بل سرخوږی دی چې ژورې درملنې ته اړتیا لري. دا لانجه دعوا مو تر خپل منځي اختلافاتو او جنجالونو په مراتبو ډېره زیاته خطرناکه او د ټولنې د هلاکت، ذلت او بدمرغۍ لامل گرځېدلي او لاهم پرلپسې ناخوالې راولي. په دې لړ کې د اسلامي امارت مشران وخت پروخت یادونه او ټینگار کوي چې افغانانو کې د تعلیمي بهیر دغه دوه رنگي له منځه ورل غواړي. خو د زیاترو پوهانو په اند دې برخه کې لا چندان ډېر کارنه دی شوی یا دا چې گامونه باید گړندي واخیستل شي. ځکه دا ستونزه داسې هم نه ده چې ټول امت ته ورپېښه او گرده اسلامي نړۍ پرې اخته وي، بلکې دا زموږ خواته له هنده راغلې، چېرته چې انگریزانو اوږده زمانه واکمني لرله. ترڅو چې دا لانجه زموږ گاونډ ایران کې هم نشته او د عربي هېوادو په شېر هلته هم ټولو تعلیمي مراکزوته مدرسه ویل کیږي. په هر صورت، دا ستونزه هوارول غواړي نو ښه به دا وي چې دې موخې ته د رسېدو لپاره سر له اوسه په مدرسو او مکتبو دواړو کې یو بل ته د ورنږدې کېدو په لارو چارو فکر وشي. مثلاً په مدرسو کې د ځینو غیر ضروري مضامینو پر ځای لیکنې، پښتو، دری، انگلیسي، ریاضي، ملي تاریخ، صحي لارښوونو او داسې نوروته ځای ورکړو او په مکتبو کې بیا هم د غیر ضروري پر ځای دیني مضامینوته. بل قدم کې بیا د مدرسو تعلیمي کال هم د مکتبونو په شېر د گرمو او سړو سیمو نظام ته واړوو، بیا هڅه وکړو چې د عصري او دیني دواړو عمومي زده کړه په لسو کلونو کې ځای او ترلس کلن تعلیم وروسته د تخصصاتو بېلابېلو څانگو ته په خپله خوښه د طالب العلمانو د ورتگ زمینه مساعده کړو. په دې ډول به کرارکرار اخر هغه پړاوته ورسیږو چې د مکتب او مدرسې بېلتون به ختم او ترلسم پورې به ټول هېواد کې د نارینه او ښځینه و په شمول ټولوته ایکي یو نصاب، یو ډول کتابونه او د یوه اعتبار والا سندونه ټاکل شوي وي. البته تردې مرحلې وروسته دې بیا د تخصصي پړاو په هره څانگه کې د مهارت لپاره انتهایي ډېره هڅه وشي څو وکړی شو د خپلو رسېدلو او ماهرو مسلکي کدرونو پرمټ د هېواد په ودانۍ او خلکو په مناسب خدمت کې د پرمختگ او سوکالۍ په لور گړندي گامونه واخلو. د دې ستونزې د هوارې په هیله.

## بخش های تخریب شده بالاحصار غزنی بازسازی می شود



وزارت شهر سازی و مسکن قسمت های تخریب شده بالاحصار غزنی را ترمیم می کند
دفتر مطبوعاتی وزارت شهر سازی و مسکن با نشر این خبر گفته است :آن وزارت مسؤلیت مرمت و حفاظت از اماکن تاریخی و شهرهای قدیمی کشور را بر عهده دارد و تلاش می کند که این ارزش ها را حفظ کند.
مولوی نورولی بلال متقی رئیس شهرسازی و مسکن غزنی می گوید: تیم تخنیکی آن اداره از بالاحصار شهر غزنی بازدید کردند تا چگونگی خسارات را تثبیت کنند که از اثر ازباراندگی های اخیر براین مکان تاریخی وارد شده است.
وی گفت: در تلاش اند تا هر چه سریعتر برای بازسازی و ترمیم قطعات تخریب شده برنامه ریزی کرده و به این مشکل رسیدگی شود.

## شماری از کارخانه های تولیدی غیرفعال در نیمروز دو باره فعال می شوند

سرپرست وزارت صنعت و تجارت که در یک سفر کاری به نیمروز رفته است از شماری کارخانه های تولیدی غیر فعال در آن ولایت دیدن کرد.
دفتر مطبوعاتی وزارت ... ص۳




## کندهار کې سلگونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د کندهار د اقتصاد ریاست مسوولینو په یاد ولایت کې د اوبو رسولو د یوې شبکې د جوړېدو خبر ورکړی دی.
د کندهار د اقتصاد ریاست ویاند کمال شاه سادات د باختر آژانس خبریال ته ویلي چې د اوبو رسولو دغه شبکه له ماشومانو څخه د ملاتړ موسسې له لوري د ۵۸ زره ٦۱۲ امریکایي ډالرو په لگښت د یاد ولایت په غورک ولسوالۍ کې جوړه شوې ده.
هېره دې نه وي چې د یادې شبکې په جوړېدو سره ۲۲۰ کورنیو ته د څښاک اوبه او د سیمې یو شمېر کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.



## آغاز کمپاین غرس و توزیع نهال گل ارغوان از سوی شاروالی کابل

**شریعت:** گل ارغوان یکی از گل های زینتی پرطرفدار است که به دلایل زیبایی، معنایی و تاریخی اهمیت بسیاری دارد. این گل در بسیاری از فرهنگ ها و ادیان به عنوان نمادی از عشق، زیبایی، شور و شادابی شناخته شده است.
همچنین، گل ارغوان به عنوان نمادی از مقاومت و تلاش در برابر مشکلات نیز شناخته می شود. از آنجایی که این گل در رنگ های



مختلف و زیبا ظاهر می شود، به عنوان یک گل زینتی نیز مورد توجه قرار می گیرد و برای تزئین باغ ها و فضاهای داخلی استفاده می شود.
به همین اساس کمپاین غرس و توزیع نهال گل ارغوان در فراز و دامنه تپه ها و کوه های اطراف شهر کابل با شاندن اولین نهال توسط مولوی محمدخالد سجستانی معین خدمات شهری و حفظ محیط زیست شاروالی کابل، ص۳

# په امریکا کې د محصلینو لاریونونه

**مولوي نورالحق مظهري**

له څــو ورځو را په دې خوا په امریکا کــې د پوهنتونونو محصلین د غزې د خلکو په پلوۍ او د اســرائیلو د ظلم پر وړانــدې لاریونونه کوي دا ځکه چې محصلینو ته حقیقت معلوم شوی او په دې باندي پوهېدلي چې اسرائیل ظالمان او د غزې خلک مظلومان دي.

امریکایي چارواکي د دې تر څنګ چې په ښکاره په هره برخه کې د اسرائیلو مرسته کوي په امریکا کې د محصلینو لاریونونه یې هم ډېر ســخت ځپي چې تر اوسه یې په سلګونو محصلین ډبولي او بندیان کړي دي.

موږ پخوا لا ویلي وو چې امریکایان د نړۍ په هر ګوټ کې په فساد کې ښکېل دي او د هرې منفي پېښــې تر شا د دوی لاس دی خو ځینو په اصطلاح سیاست پوهانو به د امریکایانو په اســتازیتوب د هغوی په دفاع کې دلائل ویل خو الحمدلله چې د امریکایانو اصلي څېره ورځ تر بلي بربنډېږي او حقائق را ښکاره کېږي.

همداســـي د امریکا لخوا د بشري حقوقو او د بیان د آزادۍ ټولې دعواوې درواغ دي بلکې د امریکا یواځنی هدف د نورو امتونو تســخیرول او د خپلي واکمنۍ غځول دي هغه که د انسانانو په وژلو کېږي او که د نورو هېوادونو په ورانولو کېږي؛ دا خبره امریکا په خپل عمل کې په ښکاره ثابته کړې ده.

که د امریکایانو تاریخ مطالعه کړو دا به راته ثابته شــي چې امریکایانو په هر ځای کــې د حق ږغ د خپه کولو او ټیټولو کوښــښ کړی او چې د نړۍ په کوم ځای کې د حق آواز پورته شــوی امریکایانو یې پر وړاندې سخت عکس العمل ښودلی، چې یوه کوچنۍ بېلګه یې د فلسطین موضوع ده؛ د فلسطین په موضوع کې د امریکایانو موقــف نه یوازې دا چې د بین المللــي او عقلي اصولو خلاف دی بلکې په ملګرو ملتونو کې د ډېرو هېوادونو د موقف څخه هم خلاف دی.

امریکایان په اصل کې د ځان په ګټه د بیان آزادي غواړي خو د نورو ولسونو لپاره بیا د بیان آزادي نه شي زغملای، د ځان لپاره د بشري حقوقو مراعات کول غواړي خو د نورو ولســونو لپاره پر جزئي حق هم باور نه لري کنه، نو د فلسطین پر موضوع به یې تل یو طرفه قضاوت نه کولای او په خپله امریکا کې به یې د محصلینو لاریونونه په ظالمانه ډول نه ځپلای.

د امریکایانو له دې کړنې سره مې د فرعون هغه کړنه را په یاد شوه چې د هغه وخت د ساحرانو په وړاندې یې کوي؛ کله چې د فرعون په غوښتنه ساحرانو د موسی علیه الســـلام سره مبارزه پیل کړه او په مبارزه کې موسی علیه السلام بریالی شو ساحرانو حقیقت درک کړ او پوه شول چې موسی علیه السلام ساحر نه دی نو یې ایمان راوړ؛ فرعون له هغوی ســره دومره ظلم وکړ چې د هغوی لاسونه او پښې یې غوڅې کړې او په دار یې وځړول.

نــن چې په امریکایــي پوهنتونونو کې محصلینو حقیقــت درک کړی او د غزې په وړاندې یې د امریکایانو او اســرائیلو ظلمونه پېژندلي دي د عدالت او انصاف آواز یې پورته کړی، خو امریکایي چارواکو د خپل عادت له مخې د دوی آواز خپه کوي او نه پرېږدي چې څوک د مظلومانو په دفاع کې د عدالت غوښتنه وکړي.

نن د نړۍ ټول پوهان او ویښ انســانان دا مســئولیت لري چې د امریکا کرغېړنه او ظالمانه پالیسي د نړۍ ولســونو ته معرفي کړي او په امریکا کې د محصلینو ملاتړ وکړي.

# د جمعې قیمتي مازدیګر

**حسان مجاهد**

الله تعالی په جمعه کې یو داسې ســاعت پیدا کړی، چې هره دعا په کې قبلېږي او دغه ساعت یې له خپلو بندګانو څخه له دې کبله پټ کړی، چې دوی په ټوله جمعه کې الله تعالی ته متوجه شي او غفلت اختیار نه کړي، خو د امت ډېر علماء کرام پر دې باور دي چې د دعا د قبولیت دغه ساعت د جمعې په ورځ د مازدیګر له لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پورې ډېر احتمالي دی؛ ځکه نو دوی به هم په همدغه وخت کې د دعا ډېره هڅه کوله.

ابن قیم رح وايي: د جمعې په ورځ له مازدیګر وروســته دغه ســاعت ته د هر ملت کسان ډېر درناوی لري.(زاد المعاد ۱ / ۳۸۲)

ابن عساکر رح لیکي: کله چې صلت بن بسطام رح په سترګو ړوند شو؛ نو د جمعې له مازدیګر وروســته یې ملګري کېناستل او د نوموړي لپاره یې دعا پیل کړه، لمر لا نه وو ډوب شــوی، چې الله تعالی یې ســترګې بېرته خپل روغ حالت ته وګرځولې. (تاریخ دمشق)

ســعید بن جبیر رح به د جمعې په ورځ له مازدیګر وروسته په دعا مشغوله شو او تر لمر لوېدو پورې به یې له هیچا سره خبرې نه کولې. (زاد المعاد ۱ / ۳۸۲)

طاووس بن کیسان رح به د جمعې له مازدیګر وروسته مخ پر قبله کېناست، دعا به یې پیل کړه او له چا سره به نه غږېده.(تاریخ واسط)

مفضل بن فضاله رح به چې کله د جمعې په ورځ د مازدیګر لمونځ ادا کړ؛ نو یوازې به په مسجد کې کیناستل او تر لمر لوېدو پورې به یې دعا کوله.(أخبار القضاة)

موږ مســـلمانان نن له یوې خوا په ډول ډول ګناهونو او ستونزو کې را ګیر یو، خو بل لوری بیا له الله تعالی څخه غافله یو، د جمعې په قیمتي ورځ د دې پر ځای چې د دعا د قبولیت پر مهال الله تعالی ته ژړا او زارۍ وکړو؛ د خپل نفس د خوشحاله کولو لپاره که عام خلک دي که خواص(علماء، طالبان او مجاهدین)، تفریحي ځایونو ته د منظرو په موخه ځو او هلته د ماشومانو په څېر خپل طبعیتونه برابروو.

چهل سال عمر عزیزت ګذشت<br>
مزاج تو از حال طفلي نګشت!

# د خدیجې رضي الله عنها تلوسه او د ابوبکر صدیق رضي الله عنه مسلمانېدل

**شرر ساپی**

د خدیجــې زړه ودرزېده، د مکې د مخــورو په اړه یې د خپل فکر مارغه پرېښود، د ذهن په پرده یې د خپل مېړه د تره زوی ابوسفیان بن الحارث انځور شو، چې له محمد ســره یې په قیافه کې شباهت لاره او ورسره به و، حارث ورته هاشــمي ځوانان وریاد کړل، طالب، عقیل، جعفر په زړه کې یې د هېلو څراغ روښــانه شــو، په هغوی کې یې داســې ځوانــان ولیدل چې دغه نوي دیــن ته به ډېره لېوالتیا وښــایي، د امین عمه یې سترګو ته ودرېده چې د ابو امیه بن المغیره ســره یې د واده په کولو د هاشــمیانو او مخزومیانــو ترمنځ د خپلوۍ پل وتــاړه. هغې د خپل وراره ســره ډېره مینه لرله، همدغه عاتقه وه چې خدیجې ته ورغله او د خپل وراره محمد بن عبدالله په اړه ورســره وغږېده چې خپل ســوداګریز مالونــه ورکړي، که هغه په محمدي رســالت ایمان راوړي دواړه بچــي (عبدالله ، زهیر) به یې په منډه متابعــت وکړي، څوک څه پوهېږي چې پــه مخزومیانو کې به د دغه خلکو پر مټ اســلام خپور شي.

کــه ولید بــن المغیره دغــه نوی دیــن قبول کــړي، نو مخزومیانو به ټول د خپل مشــر په لاره روان شــي، خو دغــه خبره ډېره نا ممکنه ښــکاري. ایا دا بــه عقل ومني چې ولید دې له خپل مقام نه راکوز شــي او په خپل لاس دې خپل غرور په خنجر ووهــي او یا دې خپل قیادت د قریشو د یتیم په لاس کې ورکړي !

د ابوســفیان دریځ به د نوي دین په اړه څه وي؟ هغه به په خپلــو غوړونو کې ګوتې ږدي، هغه به ګومان کوي چې د عبدالله زوی غواړي مشري هاشــمیانو ته رانتقال کړي. یواځې یې دې ته ســترګې وې چې د هاشمیانو او امویانو ترمنځ ســیالي روانه ده او په ټولو قریشــو کې د مشرتابه لپاره څوک نه ویني.

د عبد شــمس مشــر عتبه بن ربیعه، د شــیبه بن ربیعه، ابوالحکم بن هشام (ابوجهل)، امیه بن خلف، عاص بن وائل، عبدالله بن ابي ربیعه، ارقــم بن ابي الارق. مطعم بــن عدي، عقبه بن ابي معیــط، دعربو طبیب حارث بن کلده الثقفي او د هغه د زوی نضر دریځ به یې څه وي؟! د خدیجې غوندې زیړ شــو او په خپل مېړه باندې سخته وویرېده، لاره په ازغیو او خنډونو ډکه ده. مخکې له دې نه چې ویرې ته تســلیم شي، ســترګو ته یې ځلېدونکې حقیقت وبرېښــېده، محمد یواځې نــه دی، هغه له الله ســره دی، چې څوک له الله ســره وي، الله له هغه سره دی.

د حکیم بن حــزام وینځه د خدیجې لیــدو ته راغله، په ورین تندي ورسره مخ شوه، د حرا د پېښې په اړه یې ورته یادونه وکړه چې الله پاک محمدـﷺـ د خپل رســالت لپــاره غوره کــړی ، خدیجې لا خبره نه وه پاشــلې چې وینځــه په منډه خپل بادار ته ورغله، حکیم ته ورننوته، له هغه سره ابوبکر ناست و، ورته یې وویل :

– ســتا ترور خدیجه دعوه لري چې مېړه یې د موســی په څېر رالیږل شوی نبي دی .

د ابوبکــر زړه ودرزېــده، هغه د امین کور تــه ډېر راتلو، له هغه ســره به یې خبرې کولې، د هغه لــه مفکورې نه اغېزمن شــو او پــه دې باور و، چې هغــه د الله یو فیض و، د ورقــه خبرې یــې اورېدلې وې چې له محمد ســره ورغلــی و، ورقه ورته وویل چې پرځای ورته ودرېږه چې څه یې واورېدل، له ده ســره یې باید شریک کړې، خو په دې نه پوهېده چې ملګری به یې له حرا څخه د اســماني رسالت سره یوځای راوګرځي.

ابوبکر د زغم تاب رانه ووړ، له هغه نه یې اجازه وغوښته او د خدیجې کور ته روان شــو، خپــل لیدلی خوب هم وریاد شــو، هغه خوب لیدلی و چې له اسمانه مکې ته ســپوږمۍ راکوزېږي، هر کور ته یوه ټکره ننوځي او پاتې ټوله د ده پــه غېږه کې پرېوځي، هغه اوس حس کړه چې خوب یې رښتیا دی او حقیت ته رسېږي .

ابوبکــر ظالم او متکبر نــه و او نه یې کــوم زعامت لره چې پــه لمنځه ورلو به یې ویرېدلی وای او نه یې په بتانو ایمان لره، له هغې ورځې راهیسې یې له بتانو څخه کرکه راغلې وه چې له کومې ورځې نه یې ورته وویل: زه ورېږ یم ما ته دوډۍ راکړه او هغه په خپله چوپتیا کې ډوب وو. ذهن یــې ترلی نه و او نه د کومې غوښــتنې او شــهوت ملاتــړی و، ابوبکــر د حقیقت جوهر غوښــت، په خپل ملګــري کې یې ټولې هغه هیلې لیدلې وې چې د اصلاح غوښــتونکو په زړونــو کې درزیدې، کلــه چې یې هم د حکیم له وینځــې واورېدل چې خدیجه ګمان کوي چې مېړه یې د موســی په څېر رالیږل شــوی نبي دی، په منډه راپورته شو چې ورسره وګوري .

ابوبکــر د خدیجې د کــور دروازې ته ودرېــده، په ډېر هیجاني شــکل یې دروازه وټکوله، شېبه وروسته دروازه پرانیســتل شــوه، وینځې پســې وروســته روان شو، په انتظار خونه کې کېناســت، وینځــه هلته لاړه چېرته چې ابوالقاسم او کورنۍ یې ناســته وه، هغوی یې د عتیق بن ابي قحافه په راتګ خبر کړل .

محمد علیه الســلام د خپل ملګــري ملاقات ته ورغی، خدیجه راپاڅېده د عواطفو ســمندر یې په جوش راغی، لېواله شــوه چې د دواړو ملګرو ترمنــځ خبرې واوري، په دې بــاوري وه چې ابن ابي قحافه بــه د محبوب بلنه ومني، ابوالقاســم خپل ملګري ته په ورین تندي ورغی، ابوبکر ورپاڅېده او په احساســاتي لهجه یې وویل :

– وا ابوالقاسمه! ستا په اړه دا څه اورم؟

نبي ﷺ په ارامه لهجه وویل :

– ابوبکره! زما په اړه دې څه اورېدلي دي؟

– اورېدلــي مې دي چې یو الله ته بلنه کوې او دعوه لرې چې د الله استازی یې .

– بلــې! ابوبکره. رب مې زیری ورکوونکی او ویروونکی رالیږلــی یم، د ابراهیــم دعا یې ګرځولی یم او درســتو انسانانو ته یې استولی یم .

د خدیجې په ســینه کې زړه په ټوپونو شو، ټوله غوږ غوږ شــوه، ډېره منتظره پاتې نه شوه، له ابوبکر نه یې واورېدل چې په ډېر باور او داډ وایي :

– په الله کــه دې کله دروغ ویلي وي، د رســالت لپاره جوګه یې، د ســتر امانت قابل یې، د ښــو ښېګڼو او کړنو څښتن یې. لاس دې راوغځوه .

خدیجه د خوشالۍ ســمندر په مخه کړه، ابوبکر پکې نه شک وکړ او نه یې رد کړه بلکې ویې ویل: اشهد ان لا اله الا الله، وانک رسول الله.

خدیجه په خوښــۍ راووتله، ســور ټیکری یې پرځان و، ویې ویل :

– د الله ســتاینه ده ابوبکره چې الله درته هدایت وکړ .

ابوبکر د اسلام په ســپېڅلې رڼا منور شو او د رسول الله ﷺ له کوره په ډېره خوشالۍ ووت.

# کارګر او ولور

**تبصره**

د مــې لومړۍ د کارګر له نړیوالې ورځې ســره برابره وه، نړیوال دغه ورځ په داسې مهال نمانځي چې همدا اوس میلیونونه کســان، چې اکثریت یې ښــځې او ماشومان دي، د درانــه او یا هم د لږ معــاش او مزد په بدل کې په کار بوخت دي.

ډېرې هېوادونو کې د کار مالکان له خپلو کارګرانو څخه داســې ګټه پورته کوي، چې ان د مرګ سبب یې ګرځي او دغه ډول کارونه د ډېرو کمو پیســو په بدل کې ترسره کېږي.

ځینــو هېوادونــو کې بیا کارګــر د دې له امله تر فشــار لاندې دی، چــې مزد او معاش یې پــر وخت او یا هم پوره نــه ورکول کېږي او یا هم د ترلاســه کولو په وخت کې له سختو ستونزو سره مخ کېږي.

د نــړۍ په ځینو برخو کې بیا کارګــر د زړه له تله د خپل کار په واســطه خپلو خلکو او خاورې ته خدمت نه شي کولی ، دلیل یې دا دی، چې نیم کاري عمر یې له دندې د ګوښه کېدو په وېره کې تېرېږي.

داســې هېوادونه هم شــته، چې د یو شخص عاید ته په کتو پــه کې مصارف څو چنده ډېــر دي، د مثال په توګه د یو کاریګر میاشــتېنی عاید به ۲ ســوه ډالر، خو د واده لګښت به یې ۲۰ څخه تر ۲۵ زره ډالرو پورې وي، چې دا ډېــر جالب او له درک څخه لرې خبره ده.

د کار دغــه قوانین کډوالۍ ته لاره هواروي او همدارنګه په ټولنه کې نــورې ناخوالې لکه غلا، اخلاقي او اداري فســاد او نورې بدبختــۍ رامنځته کوي، هــر هېواد کې حاکــم نظامونه باید د کار قانــون اصلاح او د کاریګرو حقوق تضمین کړي، ترڅو پورته ذکرشــویو بدبختیو ته د پای ټکی کېښودل شي.

دغه راز هېوادونو ته پکار ده، چې پر کاریګرو فشــار له منځه یوسي او داسې قوانین رامنځته کړي، چې کارګران په کې د امن احســاس وکــړي او نور داســې فکر و نه کړي، چې ګواکې کاري مشــر به یې د خپلو خپلوانو او ملګرو د ځای پرځای کولو په موخه له دندې لرې کړي.

# بدلمني او د هغه ناوړه اغېزې

**ژباړن -محمدعلي عظمت - دویمه برخه**

۲۱ـ لــه بدو او خبیثو حیواناتو ســره د بدلمنو انســانانو مشابهت راځي .

۲۲- د هغو په ژوند کې تنګي راځي .

۲۳- د بدلمنــو انســانانو د مختورۍ او رســوایۍ لامل جوړېږي .

۲۴- بدلمني انســان له نېکو اعمالو ایساروي .

۲۵- بدلمني د انســان د ژوند برکت ختموي .

۲۶- بدلمني د انســان د زړه هوډ او عزم ختموي .

۲۷- بدلمني انســانان له ګناهونو سره رودي کوي .

۲۸- د بدلمني د انســان د تباهۍ سبب جوړېږي .

۲۹- هغو ته نور ګناهونه واړه ښکاري.

۳۰- بدلمني انســان د دنیا او اخرت له ګټو محروموي.

۳۱- د دوی عقل او عزت له منځه وړي.

۳۲- بدلمني انسان د لعنت وړ ګرځي .

۳۳- نومــوړي انســانان د رســول اللــه ص لــه دعــا محرومېږي .

۳۴- د هغوی د جهنمي کېدو سبب کېږي، لکه د معراج په حدیث کې چې ورته اشــاره شوې، چې بدلمني د اور په تنور کې سوځول کېږي .

۳۵- دا ناوړه خوی د انســان غیرت له منځه وړي .

۳۶- دا پلیت عادت د الله ج عزت او وقار د انســان له زړه وباسي .

۳۷- دا کار انســان د اللــه ج له یادولــو او ذکره غافله کــوي. ( دې خلکو الله ج د ګناه لــه امله هیر کړی الله ج به دوی هم هیر کړي) .

۳۸- داعمل انســان د اخلاص او احســان لــه دایرې خارجوي .

۳۹- د هغــو د غمونو او خپګان لامل جوړېږي .

۴۰- بدلمنــي انســان د اللــه ج لــه نعمتونــو څخــه محروموي .

## نړی سره په پولادي کرښه ...

دوستانه او پیوستون نه ماتېدونکی او پولادي ګڼي.
دا په داسې حال کې ده چې نړېدې دوې اونۍ وړاندې هم یو زر او ۱۰۰ متریک ټنه تالک د روزنک وسپنې پټلۍ په وسیله ترکیې ته صادر شوي وو. ویل کېده چې له فتحې وروسته دا لومړی ځل دی چې افغاني توکي د روزنک وسپنې پټلۍ له لارې بهر ته صادرېږي.
د هرات د وسپنې پټلۍ رییس مفتي محمد نسیم محمدي د یادو تالک ډېرو د لېږد په تړاو ویلي چې په پیل کې به د روزنک وسپنې پټلۍ له لارې د سوداګریزو توکو د لېږد را لېږد کچه په ورځني ډول یو اړخیزه وي او د سوداګریزو توکو حجم ته په کتلو سره به یې کچه په ورځني ډول دوه اړخیزه شي.

## آغاز کمپاین غرس و توزیع نهال گل ...

درحالی که شماری از رؤسای شاروالی کابل، بزرگان و جوانان ناحیه دوم حضور داشتند، از ساحه کوه تلویزیون و آسمایی آغاز شد.
**معین خدمات شهری شاروالی کابل در این کمپاین صحبت نمود و گفت:** در روایات تاریخی شهر کابل و کوه ها و تپه های آن ارغوانی اش توصیف شده است. تپه ها و کوه هایی که از گل و درخت و گیاه پر بوده است، در نظر هر شخص شهر کابل به چهره ارغوان پوش ظاهر می شد؛ اما بنابر گذشت دوره ها و دلایلی دیگر اکنون قبای ارغوانی خود را بر تن ندارد.
وی خاطر نشان کرد که شاروالی کابل با این ابتکار می خواهد یکی از ارزش های تاریخی این شهر را دوباره احیا کند و به زیبایی و شکوفایی بیشتر شهر کابل بیفزاید.
در این مراسم مولوی عبدالوکیل متوکل رئیس سرسبزی، قاری انعام‌الله قاضی زاده رئیس انسجام امور مردمی، مولوی عبدالرحیم محمدی معاون ناحیه دوم شاروالی کابل و دیگر صحبت کنندگان تعهد سپردند که سرسبزی و شکوفایی شهر کابل توسعه یابد. با اخذ تعهد از مالکان خانه های ساحات متذکره، برای هر کدام از یک تا پنج اصله نهال گل ارغوان توزیع شده است که از آن مراقبت و آبیاری کنند.
شاروالی کابل از طریق قوریه های مربوط به ریاست سرسبزی اش برای ۱۰۰۰۰ اصله نهال ارغوان آمادگی دارد که از جمله ۳۰۰۰ آن با ۱۰۰ اصله نهال ناجو در ساحات کوه تلویزیون و آسمایی توزیع شده است.
توقع می رود که شهروندان ساحات باید در قسمت حفظ و نگهداشت بته های گل، نهال ها و درختان ساحات سبز با پرسونل شاروالی کابل دوشادوش همکاری نمایند.

**تیموری**

## بلخ کې د بیسکویټو یوه کارخونې ...

په دغه کارخونه کې ۱۰۵ ښځینه او ۳۰ نارینه پر کار بوخت دي.
د بلخ ولایت د مقام د دفتر رییس مولوي سلطان محمد سعید د خشک تاک تولیدي کارخونې فعالیت ستایلی دی. نوموړي ویلي: دا د ټولو هېوادوالو لپاره د ویاړ ځای دی، چې د خشک تاک تولیدي کارخونې تولیدات د هېواد بېلابېلو برخو ته رسېږي.

## مس عینک ته د برېښنا پر غځولو ...

د عملي کارونو د پیل په موخه د چارو پر چټکتیا ټینګار وکړ او یادونه یې وکړه، چې که چینایي شرکتونه د نوموړو پروژو په پلي کولو کې ارزین جدیت او هوډ ونښیي دغه وزارت به په راتلونکي کې له چینایي شرکتونو سره د پانګونې لپاره د لازیاتو پروژو تړونونه لاسلیک کړي.
په ورته مهال، د چین سفیر هم د یادو پروژو د پلي کولو په برخه کې د وزارت رهبري مقام ته د همکارۍ ډاډ ورکړ او ژمنه یې وکړه، چې چینایي شرکتونه به پر نوموړو پروژو د پانګونې لپاره اړین اقدامات ترسره کړي.

## آغاز کار تمدید لین ۱۱۰ کیلوولت جرقدوق ...

رئیس ولتاژبلند ریاست د افغانستان برشنا شرکت که به هدف گشایش این پروژه به جوزجان رفته می‌گوید، با تکمیل شدن لین جرقدوق-خواجه گوگردک، از ضایعات برق به ارزش میلیون‌ها افغانی، جلوگیری خواهد شد.
با عملی شدن این پروژه برق وارداتی کشور ترکمنستان از شبرغان به ولایت بلخ و دیگر ولایات شمال کشور گسترش و برعکس برق کشور اوزبیکستان به شهر شبرغان، وصل خواهد شد.
در حال حاضر و نبود چنین فرصتی مقدار زیادی از برق وارداتی کشورهای همسایه، ضایع می‌شود.

## آغاز کار ساخت دو شبکه آب‌رسانی ...

به گفته وزارت احیاء و انکشاف دهات، قرار است شبکه‌های آب‌رسانی مورد نظر در ولسوالی‌های تیوره و دو لینه ولایت غور، ساخته شود.
هزینه ساخت این دو پروژه آب‌رسانی از سوی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) پرداخت می‌شود.
در خبرنامه آمده که برق مورد نیاز این دو شبکه با منبع آفتابی، تامین خواهد شد.
وزارت انکشاف دهات افزوده که با تکمیل کار این دو شبکه زمینه دسترسی صدها خانواده به آب صحی، فراهم خواهد شد.
تلاش‌ها به هدف فراهم‌سازی زمینه‌های دسترسی شهروندان کشور به آب آشامیدنی صحی در ولایت‌های مختلف ادامه دارد.

## بیش از ۲۶ هزار خانواده در ...

در خبرنامه‌ها آمده که این کمک‌ها شامل موادخوراکی و پول نقد بوده است.
وزارت احیاء و انکشاف دهات افزوده که کمک‌های یادشده از سوی برنامه جهانی غذا (WFP) فراهم شده است.
خانواده‌های مستفید شده از دریافت این کمک‌ها اظهار خرسندی کرده‌اند.
روند توزیع کمک‌های بشردوستانه از سوی برنامه جهانی در ولایت‌های مختلف کشور، ادامه دارد.
دو روز پیش نیز برای بیش از ۴۰ هزار خانواده در ۹ ولایت کشور، کمک‌های بشردوستانه توزیع شد.

## جاو شینګ؛ چین نورو هېوادونو کې ...

وزیر مولوي محمدیعقوب مجاهد وړاندې وویل چې دواړه هېوادونه د اړیکو د ټینګښت برخه کې ګډ مشترکات لري. ملي دفاع وزیر د چین له خوا افغانستان کې له اقتصادي پروژو او پانګونې ملاتړ څرګند کړ.
دغه راز جاوشینګ وویل چې چین نورو هېوادونو کې د نه لاسوهنې سیاست پر مخ وړي. دواړو لوړیو دغه راز پر سرحدي ستونزو او د واخان پروژې پر پاتې چارو د اندونو تبادله وکړه.

## اتحادیه اروپا و سویس ۲۰ میلیون یورو با ...

برای توانمندسازی جوامع محلی در ارزیابی خطرات و کاهش اثرات منفی تغییرات آب و هوا و حوادث طبیعی در افغانستان، به مصرف خواهد رسید و این پروژه آسیب‌پذیری در برابر سیل و خشک‌سالی را کاهش و معیشت روستایی مقاوم در برابر تغییرات آب‌وهوا را افزایش می‌دهد.
اتحادیه اروپا هم‌چنان افزوده است که این پروژه در چهار ولایت اجرا خواهد شد و این امر خانواده‌ها را قادر می‌سازد تا تولیدات کشاورزی و دامی خود را افزایش دهند و درآمد متنوع و بیشتر کسب کنند.

## شاروال کابل، بر تسریع روند تطبیق ...

و بعد به صورت معیاری دیزاین شود تا در اولین فرصت ممکن مسؤلان بخش تدارکات کار ساخت و اجرای آن را آغاز کنند.
همچنان مولوی عبدالرشید، در مورد سرنوشت کار شماری از پروژه‌های مهمِ سرک سازی که به خاطر مشکلات تخنیکی و حقوقی متوقف شده بود، گفت: مسؤلان برای رفع معضل پروژه‌ها تلاش کنند تا هرچه زودتر کار پروژه‌های متوقف شده از سر گرفته شود.
گفتنی است که پلان انکشافی سال ۱۴۰۳ شاروالی کابل، شامل ساخت سرک‌های اصلی و فرعی، تنویر سرک ها، ساخت پیاده روها، کانال‌ها، آبروها، پل‌ها و پلچک‌ها، پارک‌ها و ساحات سبز، خریداری ماشینری و تجهیزات، دیزاین تعدادی از پروژه‌ها، بازسازی و ترمیم سایر تأسیسات شهری است .

## شماری از کارخانه های تولیدی ...

صنعت و تجارت با نشر این خبر گفته است: نورالدین عزیزی از فابریکه سمنت نیمروز که از چند سال به این طرف بنابر دلایلی ازفعالیت باز و بیش از ۳۰۰تن کارمند آن بیکار شده است دیدن کرد، او همچنان از فابریکه تصفیه موادنفتی عبیدنوری که با هزینه میلیون‌ها دالر ساخته شده است و تاکنون فعال نگردیده است بازدید نمود وبه همین ترتیب از فابریکه تصفیه موادنفتی میرویس عطایی که غیرفعال است هم دیدن کرد.
او هنگام بازدید از این کار خانه های تولیدی اظهار داشت که این کار خانه ها جز سرمایه ملی اند و فعال کردن دوباره آنها از مکلفیت‌ها و مسئولیت‌های امارت اسلامی می‌باشد. الحاج نور الدین عزیزی جهت فعال شدن دوباره این کار خانه ها هدایت لازم داد.

# افغان اعلانات

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۸٦٤۳۵ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد فضل فرزند محمد نادر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۷۰

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حمید نوید لمتید یک عراده موتر پلیت ٤۸٦۹۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای وحید الله فرزند عبدالغفار بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸٦۹

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح نوع تنفگچه میکاروف نمبر ( MM655 بر ۱۹٦۳) مربوط محترم عبدالوحید فرزند فیض محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۸٤۷

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت شفیق جمال لمتید یک عراده موتر پلیت ٥٤۸۲٦ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای فضل الله فرزند فضل الرحمن بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸٦۰

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نور امین شمس لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۹٦۳٤-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای علی رضا فرزند علی محمد بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸٥۷

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حمید نوید لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۸۲۲۹ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالواسع فرزند محمد نسیم بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۸٤۰

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت تمیم یاسر لمتید یک عراده موتر پلیت ۷٦۹٦۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای قربان فرزند امان الله بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸٤۲

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۷۸۱۹ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای روح الله فرزند حکمت الله بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۸٥٦

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حسیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۱٥۸۳٦-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای رحیم الله فرزند محمد کبیر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸٥۹

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم جاوید فرزند جمعه خان یک عراده موتر پلیت ٥٥۸۱٤-٥ ش کابل نوع لندکرزور زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالغفار فرزند سید امیر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۲۸

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم جاوید فرزند جمعه خان یک عراده موتر پلیت ٥۲٤۷۲-٥ ش کابل نوع لندکروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالغفار فرزند سید امیر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۲۷

***

### اعلان به داوطلبی

نام پروژه : تهیه و تدارک وسایل تکنالوژی معلوماتی کمپیوتر های دیسکتاب داریکود نمبر برشنا -۰۷-اجناس-۱٤٤٥-داوطلبی باز ملی جهت اشتراک نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد ها بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز شنبه تاریخ ۰٥/ جوزا /۱٤۰۳ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارائه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .
۱- تضمین آفر : مقدار تضمین آفر: ۹۲٦,٥۰۰ افغانی
۲- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۰٥/ جوزا /۱٤۰۳ برگزار میگردد.
۳-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.
٤-جلسه قبل از داطلبی: روز سه شنبه ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۲٥/ ثور /۱٤۰۳ بر گزار میگردد.
٥- آدرس اداره : د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.
برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.
شماره تماس: ۰۲۰۲٥۱۳٦۷۷
آدرس الکترونیکی : idris.rezaie@dabs.af
hamed.kamal@dabs.af›

***

### اعلان به داوطلبی

نام پروژه: تهیه و تدارک ٥ پایه دستگاه لابراتوار (٦) میتره (Test Benc) و ۱۲ پایه دستگاه لابراتوار(۳) میتره (Test Benc) داریکود نمبر برشنا -۰۱۲- اجناس-۱٤٤٥-داوطلبی باز ملی جهت اشتراک نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد ها بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یکشنبه تاریخ ۰٦/ جوزا /۱٤۰۳ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارائه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .
۱- تضمین آفر : مقدار تضمین آفر: ۹۹۷,۸۰۰ افغانی
۲- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز یکشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۰٦/ جوزا /۱٤۰۳ برگزار میگردد.
۳-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.
٤-جلسه قبل از داطلبی: روز چهارشنبه ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۲٦/ ثور /۱٤۰۳ بر گزار میگردد.
٥- آدرس اداره : د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.
برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.
شماره تماس: ۰۲۰۲٥۱۳٦۷۷
آدرس الکترونیکی : idris.rezaie@dabs.af
hamed.kamal@dabs.af›

# Shariat

**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

# شریعت

د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Saturday 04 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 443


### مولوي عبدالکبير:

# اوسني نظام کې هېڅوک د پردیتوب احساس نه کوي




د رياست الوزرا سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير په کابل کې د جامعة رياض العلوم نوې تعليمي دورې په پرانيستې غونډه کې ويلي، ټول افغانان په نظام او هېواد کې شريکان دي او هيڅوک د پرديتوب احساس نه کوي. مولوي عبدالکبير ويلي، دا مهال په هېواد کې د عصري او ديني علومو ترمنځ واټن له منځه تللی او اسلامي امارت د ديني او عصري علومو ملاتړی دی. ښاغلي عبدالکبير زياته کړې، په هېواد کې اسلامي نظام په بشپړه توګه حاکم شوی، زورواکي او د قدرت جزيرې له منځه تللې دي. نوموړي له افغانانو غوښتي، چې په ګډه دې د هيواد په ابادۍ او ښېرازۍ کې برخه واخلي.

## بلخ کې د بیسکویټو کارخوني فعالیت پیل کړ



د بلخ ځايي چارواکي وايي چې په دې ولايت کې د خشک تاک کارخونې پر فعاليت پيل کړی دی. ددې کارخونې ټولټال ارزښت ۲۰ ميليونه او ۴۲۰ زره افغانۍ دی.
د دې کارخونې مسوول انجنير احمد رشاد ويلي اوسمهال په دغه خونه کې په ورځني ډول ۵ ټنه بيسکويټ توليدېږي.
د ښاغلي رشاد په قول ... ۳مخ

## مس عینک ته د برېښنا پر غځولو ټینګار وشو



د اوبو او انرژۍ وزير ملا عبداللطيف منصور په افغانستان کې د چين له جاو شينګ سره وکتل او د اوبو او انرژۍ په برخه کې يې د پروژو د پلي کولو لپاره د ګډو همکاريو په هکله خبرې اترې وکړې. په دغه غونډه کې دواړو لورو د دواړو هېوادونو ترمنځ غوره اقتصادي او سوداګريزو اړيکو ته په اشارې سره، د ګډو همکاريو د پراختيا په ځانګړې توګه په لوګر کې د مس عينک پروژې د اړتيا وړ برېښنا د چمتو کولو لپاره په کاپيسا کې د باغدرې برېښنا بند او د سروبي ۲ برېښنا بند په پروژو کې د پانګونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه. د اوبو او انرژۍ وزير د مس عينک پروژې د اړتيا وړ برېښنا د چمتو کولو په برخه کې د نوموړو پروژو پلي کول اړين وګڼل او ډاډ يې ورکړ، چې د اوبو او انرژۍ وزارت د دغو پروژو د پلي کولو لپاره اړين چمتووالی لري. ښاغلي منصور ... ۳مخ

## آغاز کار تمدید لین ۱۱۰ کیلوولت جرقدوق-خواجه گوگردک در جوزجان



مسؤلان رياست د افغانستان برشنا شرکت می‌گويند، کار تمديد لين برق ۱۱۰ کيلوولت جرقدوق-خواجه گوگردک به ارزش ۶۰ ميليون افغانی در ولايت جوزجان آغاز شد.
اين پروژه به طول ۳۵ کيلومتر به ارزش ۶۰ ميليون افغانی در مدت ۴۰ روز تکميل خواهد شد.
انجنير عبدالحق بارکزی، ص۳

## ثه باندې ۵۰۰ پوځي وسایط ورغول شول

د حضرت عبدالله بن مسعور رض د جګړه ييزو ګډو زده کړو په قوماندانۍ کې ۵۸۶ عرادې پوځي وسايط ترميم شول د حضرت عبدالله بن مسعود رض د جګړه ييزو ګډو زده کړو په قوماندانۍ کې په تيرو څو مياشتو کې ۵۸۶ عرادې بيلابيل ډول پوځي وسايط چې يو شمېر يې د تيرې اداري په وخت کې عارضه درلوده، ترميم او ګټې اخيستنې ته چمتو شول. په دغو وسايطو کې ۳۵۹ عرادې رنجر، ۶۰ عراده هاموې ټانکونه، ۶۰ عرادې انټرنيشنل موټر او يو شمېر کاسټر، فورکليفت، کرين او موټرسايکلونه شامل دي.



## آغاز کار ساخت دو شبکه آب‌رسانی در غور



وزارت احياء و انکشاف دهات می‌گويد، کار ساخت دو شبکه آب‌رسانی به ارزش هشت ميليون افغانی در ولايت غور، آغاز شده است.
اين وزارت با نشر خبرنامه‌ای از آغاز اين دو پروژه در ولايت غور، خبر داده است. ص۳

## بیش از ۲۶ هزار خانواده در ۱۰ ولایت کشور کمک‌های بشردوستانه دریافت کردند

در ادامه توزيع کمک‌های بشردوستانه به بيش از ۲٦ هزار خانواده در ۱۰ ولايت کشور کمک‌های بشری توزيع شده است.
وزارت احياء و انکشاف دهات با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزيع کمک‌های يادشده، خبر داده است.
به گفته اين وزارت، کمک‌های بشردوستانه به خانواده‌های نيازمند در ولايت‌های ارزگان، کابل، باميان، پکتيکا، پروان، ننگرهار، هلمند، فراه، غزنی و پکتيا توزيع شده است. ص۳

# رویدادهای خارجی

## ترکیې له اسرائیلو سره هر ډول سوداګري لغوه کړه

ترکيې له اسرائيلو سره پر غزې د رندو بمبارۍ او نسل وژنې په تړاو هر ډول سوداګريزه راکړه ورکړه وتړله. د ترکيې چارواکي وايي، دا اقدام يې په غزه تړانګه کې د «بشري ناورين له ناوره کېدو» وروسته کړی.
د ترکيې سوداګرۍ وزارت وايي، تر څو چې اسرائيل غزې ته «له ځنډ پرته د کافي مرستو» رسېدلو ته اجازه ورنه کړي او هلته ټول وژنه ونه دروي نو دوی به خپلو بنديزونو ته دوام ورکړي.
د يادونې ده، چې تېر کال د ترکيې او اسرائيلو تر منځ د سوداګرۍ کچه ۷ ميليارد ډالرو ته رسېدلې وه.
د اسرائيلو د بهرنيو چارو وزير بيا برعکس د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان يو دکتاتور ولسمشر يادوي.
اسرائيلو د اردوغان دغې پرېکړې ته په ځواب کې ويلي چې نوموړی دی د ترکانو او ترک سوداګرو ګټې له پامه نه غورځوي.
ترکي چارواکو په يوه اعلاميه کې ويلي، د «هر ډول توليداتو» سوداګري يې لغوه کړې ده. په اعلاميه کې راغلي.
ياده دې شي چې په ۱۹۴۹ کال کې ترکيه لومړنی اسلامي هېواد و، چې اسرائيل يې په رسميت وپېژاندل، خو په وروسته يې ورسره اړيکې خرې پرې شوې.




## حمله رژیم صهیونیستی اسرائیل به یک مرکز نظامیان سوریه

وزارت دفاع سوريه تاييد کرده که رژيم صهيونيستی اسرائيل به يک مرکز نظاميان اين کشور، حمله کرده است.
اين وزارت در خبرنامه‌ای حمله رژيم اسراييل را تاييد کرده است.
در خبرنامه وزارت دفاع سوريه آمده که در اين حمله هشت نظامی سوريه زخمی شده‌اند.
بربنياد معلومات وزارت دفاع سوريه، حمله يادشده از بلندی‌های جولان انجام شده است.
اين حمله گفته می‌شود که خسارت‌های مالی نيز به‌دنبال داشته است. تاهنوز اردوی رژيم اسراييل در پيوند به اين حمله، ابراز نظر نکرده است.
حمله رژيم صهيونيستی اسراييل پيش از اين نيز بر بخش‌های از خاک سوريه، از جمله ميدان هوايی شهر دمشق پايتخت اين کشور صورت گرفته است.



## قطع روابط کلمبیا به رژیم صهیونستی اسرائیل

گوستاوو پترو، رئيس جمهور کلمبيا اعلام کرده که کشورش روابط خود با اسرائيل را قطع می‌کند.
آقای پترو در سخنرانی به مناسبت روز جهانی کارگر گفته که ديروز کلمبيا با رژيم صهيونيستی و اشغالگر اسرائيل، روابط نخواهد داشت.
رئيس جمهور کلمبيا دليل قطع روابط کشورش با رژيم اشغالگر اسرائيل را نسل‌کشی اين رژيم در نوار غزه، دانسته است.
گوستاوو پترو، نتانياهو را به دليل ادامه کشتار غيرنظاميان به‌ويژه زنان و کودکان نسل‌کش، عنوان کرده است.
پيش از اين نيز عمل‌کرد رژيم صهيونيستی اسرائيل در غزه با انتقادات تندی مواجه شده است.
بوليوی از کشورهای امريکای جنوبی است که پيش از اين به دليل نسل‌کشی رژيم اشغالگر اسرائيل روابطاش با اين رژيم را قطع کرده است.




### توجه !

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**